**نامکمل یا ناکافي ریکارډ لپاره د محرومیت امر (سپینه فورمه)**

**دا فورمه څه شی دی؟**
دا فورمه یوه قانوني خبرتیا ده. ستاسي د ماشوم ښوونځي یا د ماشوم پاملرنه کې د واکسینو د ریکارډ پربنسټ، ستاسي ماشوم ته یا ځیني واکسین ندي شوي یا هم کوم داسي څه دي چې اړتیا ده ریکارډ کې سم شي. ریکارډ باید د محرومیت/رخصتی ورځې پورې تازه شي یا ستاسي ماشوم ته تر هغه وخت پورې ښوونځي یا ماشوم پاملرني ته د ورتګ اجازه نه ورکول کیږي څو چې ریکارډ تازه شوی نه وي.

**که ستاسي ماشوم هغه واکسین چې په لیک کې لیکل شوي دي واردمخه کړي وي نو څه باید وشي؟**
دا ریکارډ د خپل ماشوم ښوونځي یا ماشوم پاملرني ته ویسئ، او د ښوونځي د ریکارډ کاپي تازه کړئ. که تاسي د ریکارډ کاپي نلرئ نو د کاپي ترلاسه کولو لپاره د ډاکټر دفتر یا ALERT IIS، د اوریګون د واکسین راجستري، ته په 1-800-980-9431 شمېره زنګ ووهئ.

**که ستاسي ماشوم هغه واکسین چې په لیک کې لیکل شوي دي کړي نه وي نو څه باید وشي؟**
د واکسینو کولو لپاره هرڅومره ژر چې ممکن وي یو ملاقات واخلئ. دفتر ته خبر ورکړئ چې ستاسي ماشوم به د واکسینو پرته د ښوونځي یا ماشوم پاملرني څخه کور ته ولیږل شي. که تاسي ډاکټر نلرئ، 211 ته زنګ ووهئ، دوی کولی شي تاسي سره واکسین کولو کې مرسته وکړي. کله چې تاسي واکسین وکړل، ډاډ ترلاسه کړئ چې ښوونځی یا د ماشوم پاملرنه یوه کاپي ترلاسه کړي ترڅو ستاسي د ماشوم ریکارډ تازه کړی شي.

**که لیک کې ښودل شوي وي چې کوم څه نشته یا نا مکمل دي نو څه باید وشي؟**
کوم څه چې نه وي یا نا مکمل وي د محرومیت/رخصتی ورځې څخه دمخه یې تازه کړئ ترڅو ستاسي ماشوم وکولی شي په ښوونځي کې پاتې شي.

**که کوم ډاکټر درته ویلي وي چې ستاسي ماشوم باید واکسین ترلاسه نه کړي نو څه باید وشي؟**
اوریګون د طبي معافی اجازه ورکوي. دا باید د یوه ډاکټر یا ځایی روغتیا څانګې لخوا لاسلیک شوی وي. که تاسي فکر کوئ چې ستاسي ماشوم طبي معافی ته اړتیا لري، د خپل ماشوم ډاکټر سره وغږېږئ.

**که تاسي د واکسین نه کول انتخابوئ نو څه باید وشي؟**
اوریګون د غیر طبي معافی اجازه ورکوي. د غیر طبي معافي ترلاسه کولو څرنګوالي په اړه د معلوماتو لپاره، www.healthoregon.org/vaccineexemption ته ورشئ.

**که تاسي پوښتني ولرئ نو څه باید وشي؟**
په قانوني خبرتیا کې ورکړل شوې د ځایی روغتیا څانګې ته زنګ ووهئ. دوی ستاسي لپاره پوښتني ځوابولی شي.